بسم الله الرحمن الرحيم

# روژه؛ د فتحو او بریاوو میاشت

## لومړۍ برخه

**الحمد لله الذي فتح أبواب الجنان لعباده الصائمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، المبعوث رحمة للعالمين وآله وصحبه الطيبين الطاهرين، ومن تبعه وسار على دربه، واهتدى بهديه واستن بسنته، ودعا بدعوته إلى يوم الدين، أما بعد:**

د هغه الله سبحانه وتعالی ثنا او ستاینه چې د روژتیانو لپاره یې د جنتونو دروازې پرانیستې دي؛ پر هغه غوره نبي او رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ او اصحابو رضوان الله علیهم اجمعین دې سلام او درود وي چې د ټولې نړۍ لپاره رحمت رالېږل شوی؛ پر هغو کسانو دې سلام او درود وي، چې د هغه صلی الله علیه وسلم پیروي یې کړې او پر لاره یې روان شوي، د هغه په هدایت یې سمه لار موندلې او د قیامت تر ورځې یې د هغه په بلنه دعوت کړی وي. اما بعد:

**د ایمان ورونړو!** په دغې مبارکه ورځ کې زموږ د بحث موضوع «**روژه؛ د فتحو او بریاوو میاشت**» ده. هو، روژه د بریاوو او فتحو میاشت ده؛ زموږ نیکونو په روژه کې سترې او غوره بریاوې تر لاسه کړې چې لاندې یې ځینې بیانوو:

- د بدر غزا د روژې میاشت کې وشوه. دغه ورځ د «فرقان» ورځ ونومول شوه؛ ځکه چې الله سبحانه وتعالی په دې ورځ کې حق او باطل سره بېل کړل او مسلمانانو په خپل تاریخ کې د اسلامي دولت تر سیوري لاندې د خپل نبي او رسول الله صلی الله علیه وسلم په مشرۍ لومړی ځل پر کفارو نظامي بری تر لاسه کړ او دغه بریا د روژې مبارکې میاشتې په ۱۷مه ترلاسته شوه.
- مکه معظمه د هجرت د اتم کال په روژې مبارکه میاشت کې فتحه شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم مکې ته ننوت او د مکې بتان یې ټول مات کړل. لات، منات او عزی یې له منځه یوړل. په دغه وخت کې یې دا ایت تلاوت کاوه:

**﴿وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا﴾** [الأسراء: ۸۱]

**ژباړه:** *«وواېه اې محمده (صلی الله علیه وسلم)! حق راغئ او باطل له منځه لاړ او یقیناً باطل له منځه تلونکی دی.»*

- د هجرت په اته اتیایم کال د روژې مبارکه میاشت کې د اروپا زرغونه سیمه؛ اندلس یا اوسنۍ هسپانیه فتحه شوه.
- د بلاط د شهیدانو جګړه د هجرت د ۱۱۴ام کال د رمضان یا روژې میاشتې په لومړۍ نېټه وشوه؛ دا وخت اسلامي دعوت او مسلمانان د فرانسې کلاګانو ته ورسېدل.
- عموریه ښار د هجرت د ۲۲۲ کال د روژې میاشتې په ٦مه فتحه شو؛ دا فتحه وروسته له هغې وشوه چې له رومیانو سره بندي مسلمانې ښځې له معتصم خلیفه څخه په «وامعتصما!» ناره مرسته وغوښته.
- حطین جګړه د روژې میاشت کې د صلاح الدین ایوبي رحمه الله په مشرۍ وشوه او د صلیبیانو پر وړاندې یې ستره بریا خپله کړه.
- عین جالوت جګړه د سلطان قطز په مشرۍ په روژه کې وشوه.

- د عثماني خليفه، سلطان محمد الفاتح رحمه الله او د هغه د پوځ فتحې د هېرېدو نه دي. دوی په ۸۲۶هـ.ق کال کې د روميانو پر وړاندې ستره بريا خپله کړه او د قسطنطنيې ښار يې فتحه کړ. دغه ښار د بيزانس امپراطورۍ پلازمېنه وه او همدارنګه د کينه‌کښو او کافرو پاپانو د کليسا ځای و. سلطان محمد فاتح په د روژې مياشت کې دغه ښار ته ننوت او ورپسې يې روژتي لښکر ورننوت. د ننوتلو پر مهال يې د الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر! نارې وهلې چې د خپل نبي صلی الله عليه وسلم دا زېري يې ربښتينی کړ: «**لتفتحن القسطنطينية، فلنعم الأمير أميرها ولنعم الجيش ذلك الجيش**» يعنې: «قسطنطنيه به فتحه کېږي او هغه فوځ به د وخت غوره پوځ او امير به يې تر ټولو غوره امير وي.» فاتح قسطنطنيه په اسلامبول ونوموله، چې معنی يې «د اسلام ښار» دی او استانبول د عثماني خلافت د ډېرو دورو پلازمېنه پاتې شوه.

**د ايمان ورونړو!** د خليفه په شتون کې دغه د مسلمانانو حال و؛ له يوې فتحې څخه تر بلې، له يوه بري تر بله او له يوه عزته تر بل پورې مخ پر وړاندې روان وو. خو نن ورځ مو دا ۱۰۳مه روژه ده چې امير، خليفه او هغه ډال نه لرو.

۱۰۳مه روژه ده چې د اسلام له ځواک او خلافت پرته ژوند کوو. خلافت د عزت، دبدبې او ځواک دولت دی. ۱۰۳مه روژه ده چې حال مو له بد څخه بدتره کېږي. له وژنې نيولې تر بريدونو، کلابندۍ او لوږې! له غزې او د فلسطين سپېڅلې خاورې نيولې تر ميانمار، ختيځ ترکستان، کشمير، سوريې او ټوله اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو مظلوميت زړونه سوري کوي! موږ مسلمانان ټولو کفارو له يوې ليندۍ ويشتلي يو؛ د صليبيانو د روانې جګړې موخه زموږ دين او عقيده ده او ګومان نه کوم چې پر دې خبره به څوک نه پوهېږي؛ څه چې شوي او يا کېږي، ټول صليبي بريدونه دي، چې مشري يې امريکا او لکۍ يې د بريتانيا او يهودي رامنځته شوي دولت پر غاړه ده. په دې برخه کې بيا د مسلمانو حکامو چوپتيا، عمل نه کول، ذلت او خيانت ډېر دردناک دی.

**نو زما مومنو ورونړو!** ايا دا نه خوښوئ چې په روژه کې د خپلو سترو نيکونو لويې، مجد او دبدبه بېرته تر لاسه کړئ؟ هغه سترې فتحې او برياوې چې ستاسو نيکونو د روژې مياشت کې تر لاسه کړې وو. نه غواړئ تاسو هم د خپل رسول صلی الله عليه وسلم زيرې ريښتينی کړئ!؟ نه غواړئ چې د عزت او کرامت ورځې بيا راولئ؟ ايا نه غواړئ چې د برياوو او فتحو ورځې راژوندۍ کړئ؟ ايا د الله سبحانه وتعالی ملاقات نه خوښوئ؟ نه غواړئ چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې شهيدان شئ؟ ايا نه غواړئ چې د الله سبحانه وتعالی خوښې تر لاسه کړئ؟ ايا د جنت مينه نه لرئ؟ که دا ټول غواړئ او هيلې مو دي؛ نو راځئ چې يو ځای د الله سبحانو وتعالی په ورځو کې د الله سبحانه وتعالی د سرتېرو پشان زيار، مبارزه او کار وکړو؛ د هغه سبحانه وتعالی په نصرت د ژوند په ټولو برخو کې د الله سبحانه وتعالی شريعت حاکم او احکام يې پلي کړو او دا هر څه يوازې د نبوت پر منهج راشده خلافت له تاسيس سره کېدی شي.

**او په پای کې، اې د ايمان ورونړو!**

الله سبحانه وتعالی خو دې وکړي چې د روژې مياشتې په دغو غوره ورځو کې زموږ سترګې د خلافت دولت په ليدو سره خوږې کړي، موږ خپل وفاداره او اخلاصمن سرتېري وګرځوي؛ د اسلامي امت لپاره د عزت، لويی او مجد ورځې بيرته راوګرځوي او په ځمکه کې هر څه ورته چمتو کړي. الله سبحانه وتعالی خو دې زموږ دغه هيلې ژر زموږ پر لاسونو د روژې مبارکه مياشت کې پوره کړي او الله سبحانه وتعالی پر دغو ټولو چارو واکمن، ځواکمن او ولي ذات دی.

**اې الله سبحانه وتعالی!** زموږ سترګې د خلافت دولت په تاسيس سره خوږې کړه او خپل اخلاصمن او وفادار سرتېري مو وګرځوه!

آمين

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**

ليكوال: استاد محمد أحمد النادي